پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

# د مارچ اتمه کال (۲۰۱۷)

دمارچ داتمی ورځی په درشل کی دافغانستان ټولو ښځو او درنو خویندو میندو اودنړی ښځو ته دمارچ داتمی ورځی دیادونی په لړ کی دزړه له کومی مبارکی اوښه راغلاست وایم ،یعنی دهغه ورځی څخه کوم چي یوه ډله آزاد خوښونکي ، زړه ورو ښځودسرمایه داری دواکدارانو د ناوړی چلند په مقابل کی دخپل آزادی اودبرابری غږ پورته کړل اودخپلووینوپه تویولوسره دتبعیض اودنابرابری ځنځیرونه مات کړل، اودشیکاګوپه ښار کي په سترو تظاهراتوسره دنړی ټولو ښځو ته وښودل چي په یو موټی کیدو سره کیدای شي چي دخپل پرمخ خنډونه او بندونه په دروند ګذار سره ونړوی او دړی وړی کړي ، نو د همدي اصل په منلو سره تا سي دافغا نستا ن درنو ښځو ته « مور ،خور، ترور ،ماندینی ، ورایندار ځوانی پیغلو او ...... » ته وړاندیز کوم چي ټولو سره یوموټي شي اوددی ناولي ، کرغیړنو ،دتیګي ددوری متحجر فکر بربران دغه مذهبی افراطی متعصبو ، تا ریک فکرو، بی فرهنګو، بی سوادو، متعفنو سپږونو ،زیږ غا ښو ، له خلکو څخه بیل ، خود محورو ، ډلو ټپلو کوم چی داستکبا ر پر چوکی باندي دپردیو په مټ ناست او پرخلکو زور زیاتي کوی دهغو په مقابل کي خپل غږ پورته کړي خپل قطارونه او صفونه سره رانژدی کړي او په مظاهرو ،میټینګونو ، مرکو ، مطبوعا تی ناستو ،او.... سره خپل کرکه او ګواښ دهغو په مقابل کی ښکاره کړي اونړیوالو ته وښیي چي دلته هم افغانی قهرما نی ښځی هم وجود لري چي د خپل حقوقو دترلاسه کولو دپاره سره هم غږ شوی دي تر څو چي دغه افغان دښمن په پنجاب کی روزل شوی افراطی ډلی ټپلي هویت نړی ته رسوا کړي او دخپلو نه ستړی کیدونکي مبارزی سره دافغانی ښځو د قاتلانو ، جلادانو اود سنګسا ر دعاملانو ناولي څیری یو ځل بیا دنړی ترقی پسندو خلکو ته په ډاګه کړي .اود ځبل ځان سره پریکړه وکړی چي دمارچ د میاشتي په اوږدو کی خپل کرکی او نفرت ددغو ناپوهو ملا طالب او شرر پیښه افغان دشمن دپردیو لاس پوڅو دبد و کارنا مو تر سرلیک لاندی موثق حقایق اوهغه تاریخی پیښی کوم چي دوی پر ښځو

باندی ناروا اوتیری کړي دی یوځل بیا بربند کړی اودهغو په زړونو کی ډار واچوي .

افغانی ښځو را پورته شي قیام ته
داسا رت ځنځیر کړی ما ت خپل فرجام ته
دخپل مخ په وړاندي ټول خنډونه ورک کړي
خپل قطار اوخپل لاسونه سره کلک کړی
د بربرو واکداری په مټ نسکور کړي
د ځنګل قا نون زر ورک له خپله کور کړي
دحجاب دتور څادر نه ځان زر خلاص کړی
خپلو خویند و سره همغږی په اخلاص کړي
د سنګسا ر د عا ملانو مخ کړی تور
پر نا پوه ملا طالب کړی شر و شور
خپل اصیل غلیم رسوا کړي پرګنو ته
د هغه څیره بربنډ کړی اولسو ته
ځا ن سمبا ل خپل په علم اوپه هنر کړي
یو د بل سره آزاد پر ځا ن اختر کړي
حق په زور اخیستل کیږی دا متل دی
واوری ما نه چی دا نظم ځما د(مل) دي
******

من یک بار دیگر حلول این روز خجسته را به فرد فرد شما تبریک میگویم وامیدو وار هستم که شما با مبا رزه پیگیر وخسته نا پذ یر خویش برتمام ناملایمت ها فایق آید وبه حیث اصل ترین راه روان آزادی برای زن افغان مشعل آزادی را روشن نگاه دارید – درود بر همه ای شما .

(المان) 2017-03-02